# رسنیز کنفرانس

## د موضوع شالید

## د ټاکنو خپلواک کمیسیون باید د ټاکنیزو منډو ترړو د مالي چارو د سمبالولو لپاره یولړ مقررات جوړ کړی تر څو ډاډ تر لاسه شي چې نوماندان په غیر قانوني ټاکنیزو منډو ترړو لاس نه پورې کوي

***د افغانستان په تیرو ټولټاکنو کې د درغلیو ادعاوو شتون درلود***

- په افغانستان کی د فساد د شتون ټولیز چاپیریال او تیرو ټولټاکنو ته په کتو سره داسی اندیښنی شتون لری چی د ۱۳۹۳ کال ټولټاکنی به هم د فساد او درغلیو سره ملی وی.
- په ۱۳۸۸ کال کې د ولسمشر د ټاکنو لپاره د ټولټاکنو بهیر د امنیت له نه شتون، د تاوتریخوالي د موجودیت، د رای ورکونکو د ټیټې کچې له ګډون (څه نا څه ۳۰ ٪) له ټاکنیزو ګنو درغلیو، د ډار او ارعاب د فضا له موجودیت او له نورو دا ډول ټاکنیزو سرغړونو نه زیانمنې شوې وې.
- دټاکنیزو شکایاتو د اورېدلو کمیسون ته څه د پاسه ۲۸۰۰ شکایتونه رسیدلي ول چې د هغو ډېرې برخې د رایو ورکولو د څرنګوالي، د رایو د صندقونو د ډکولو په اړه له درغلیو او د ټاکنو په بهیر کې د ډار او ارعاب سره تړاو درلود.

***د ټاکنو خپلواک کمیسیون د احتمالی درغلیو د مخنیوی لپاره ګامونه پورته کړیدی.***

- د ټاکنو خپلواک کمیسیون د درغلیو د مخنیوی تګلاری د جوړولو لپاره د روښوالی د یوی ارزونی د پایلو څخه ګټه پورته کړیده.
- نوموړې دری اړخیزه تګلاره د تخنیکي چارو په ښه والي، د تیروتنو د کچې په را ټیټولو او د شمیرو او احصاییو د رپوټ ورکولو او د خلکو په پراخه ګډون باندې متمرکزه ده.
- دا به ډېره اړینه وي چې د دې تګلارې پلي کول په سمه توګه وڅارل شي تر څو ډاډ تر لاسه شي چې ټول اړونده کړنی په اغیزمنه توګه پلي کیږي.

***سر بیره پر دې دا چاره لا تر اوسه روښانه نه ده چې د ټاکنو خپلواک کمیسیون او د مالي وزارت د ټاکنیزو منډو ترړو د مالي چارو او اړونده لګښتونو د تنظیمولو او څارلو لپاره د قانون سره سم کومې لارې چارې په پام کې نیولې دي که څنګه؟***

- د رسمي موقفونو او یا هم دولتي سرچینو څخه ناوړه ګټه اخیستنه راتلونکو ټولټاکنو لپاره یو ریښتینی ګواښ ګڼل کیږي.
- دا خبره د دې لپاره ډېره اړینه ده چې د ګوندونو او نوماندانو د عایداتي ټولو سرچینو د ثبت او د لګښتونو د رپوټ ورکولو او څارلو لپاره اغیزمنې لارې چارې یا سیستمونه رامنځ ته شي تر څو ډاډ تر لاسه شي چې دا ډول ناوړه ګټې اخیستنې بیا نه پیښیږي.
- اوس مهال د عایداتو او لګښتونو د ثبت لپاره یوازې یو سیستم موجود دې چې هغه سیاسي ګوندونو ته ځانګړی شوی او د ځانګړو کسانو د ټاکنیزو منډو ترړو لپاره کومه قاعده موجوده نه ده. همدارنګه د عایداتو او شتمنیو د لاسته راوړلو سرچینی هم نه دی تصدیق شوی.
- په همدې توګه د څارلو او مراقبت د یوه داسې اغیزمن میکانیزم نه شتون هم محسوس دی تر څو دا ډاډ ورکړي چې د ولسمشرۍ د ټاکنو د منډو ترړو اړونده لګښتونه به له مجازو ټاکلو پولو څخه وانهوړي.

***د اداري فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکی ګډی کمیتی د ټاکنو خپلواک کمیسیون، د مالیه وزارت او د اداری فساد پروړاندی د څارنی ستری اداری ته سپارښتنی کړی ترڅو په اغیزمنه توګه د ټاکنیزو منډوترړو تمویلول او لګښتونه وڅاری.***

- د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکه ګډه کمیټه سپارښتنه کوی چی د ټاکنو خپلواک کمیسیون باید د ولسمشرۍ په راروانو ټولټاکنو کې د ځانګړو نوماندانو د منډو ترړو لپاره د سیاسي ګوندونو څخه د غوښتنو په څیر داسی غوښتنې وضع کړي چې د هغو پر بنسټ دوی باید خپلې دارایی ثبت او د ټاکنو د منډوترړو لپاره دې د پیسو سرچینې او لګښتونه مستند او تصدیق کړي.
- د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکه ګډه کمیټه سپارښتنه کوی چی د ټاکنو خپلواک کمیسیون او د مالی وزارت د اداري فساد پروړاندی د څارنې د ستری اداري په نږدی مرسته باید د سیاسي ګوندونو او ځانګړو نوماندانو عایداتی سرچینې او شتمنۍ تصدیق کړي.

***د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکه ګډه کمیټه همدارنګه سپارښتنه کوی چی د ټاکنو خپلواک کمیسیون د خپلو د رایه ورکونکو د مرکزونو کارکونکو ته روزنی ورکړی.***

- د رونوالی ارزونو په ډاګه کړی چی په تیرو ټولټاکنو کی د رایه ورکولو د مرکزونو د کارکونکو کمزوری روزنه د فساد او درغلیو لامل ګرځیدلی.
- د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکه ګډه کمیټه سپارښتنه کوی ترڅو د ټاکنو خپلواک کمیسیون د رایه ورکونی د مرکزونو د کارکونکو په روزنه کی نیغ په نیغه برخه واخلی او د څارنی یو اغیزمن پروګرام په لاره واچوی ترڅو ډاډ ترلاسه شی چی د رایه ورکونی د مرکزونو ټول کارکونکی په خپلو دندو باندی پوهیږی.

***د اداري فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکه ګډه کمیټه د دې لپاره جوړه شوې ترڅو په افغانستان کې د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې لپاره ملي او نړیوالې هڅې په خپلواکه توګه وڅاري***

- د اداري فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکه ګډه کمیټه د اداري فساد سره د مبارزې په برخه کې سپارښتنې او بنچمارکونه وضع کوي او د هغو د پلی کیدو څخه څارنه کوی تر څو ډاډ تر لاسه شي چې په اغیزمنه توګه پلي کیږي.
- د اداري فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکه ګډه کمیټه د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې په برخه کې ملي او نړیوالي هڅې په خپلواکه توګه څاري
- د اداري فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکه ګډه کمیټه له دریو تجربه لرونکو ملي او نړیوالو کارپوهانو څخه تشکیل شوې ده
- د اداري فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکه ګډه کمیټه خلکو، ملي شورا، ولسمشر او نړیوالي ټولنې ته په هرو شپږو میاشتو کې ریپوټ ورکوي.

**د لا ډېرو معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره د اداري فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی د خپلواکي ګډې کمیټي سره په لاندې پتو اړیکې ټینګې کړئ:** +93 (0) 798 750 527 contact@mec.af www.mec.af